دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

شهادت اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

درس قرآن

روژه هغه میاشت ده چې په دې کې هغه قرآن نازل شوی دی چې د خلکو لپاره لارښود او د لیار ښوونې او د حق او باطل ترمنځ د جلاوالی څرګند دلایل دي. نو څوک چې له تاسې څخه دا میاشت ومومي، نو روژه دې ونیسي. او څوک چې ناروغ یا پر سفر وي نو شمېر دې له نورو ورځو څخه پوره کړي. الله پاک ستاسې لپاره آسانتیا غواړي نه سختي. (سورة البقره: ۱۸۵)

درس حدیث

از ابو هریره رضی الله عنه روایت است که:
پیامبر صلی الله علیه وسلم فرمود: کسی که سخن دروغ و عمل به آن را ترک نکند، پس خداوند تعالی نیازمند آن نیست که خوردنی و آشامیدنی خود را ترک کند. (ریاض الصالحین)

شهادت څلورم کال، ۱۹ مه ګڼه، پرله پسې ۱۷۰ مه ګڼه چهارشنبه ۱۳۹۱ هـ ل د زمری ۲۵ مه د۱۴۳۳ هـ ق د رمضان المبارک ۲۷ مه د۲۰۱۲ م د آگست ۱۵ مه

پیام تبریکیهٔ حزب اسلامی افغانستان به مناسبت حلول عید سعید فطر

حزب اسلامی افغانستان حلول عید سعید فطر را برای کافهٔ امت اسلامی و ملت مسلمان افغانستان تبریک عرض نموده و آرزو دارد که هموطنان عزیز ما با کسب فیض از برکات ماه پُرنور رمضان ایام خجسته عید را درفضای صلح و آرامی و برادری سپری نمایند. واز خداوند منان استدعا می کنیم که کشور عزیز ما را گهوارهٔ صلح، ثبات، امنیت وترقی فرموده وهموطنان رنجدیدهٔ ما راتوفیق زیست شریفانهٔ باهمی وهمت اعمار آبرومندانهٔ کشور شان را ارزانی کند.

جایکا: مشکلات زمین در کابل جدید ادامه کمک ها را متأثر میسازد

PROPERTY OF ACKU

تصفیه زمین باید به گونه مناسب انجام شود، جبران خساره درست صورت بگیرد، با مردم به طور مناسب مشوره گردد، اینها شرایط ما اند زیرا نمی توانیم که مردم را جبراً اخراج کنیم

کابل، رسانه ها:
اداره همکاری های بین المللی جاپان یا جایکا می گوید که کمک های مالی را با یک سلسله شرایط به پروژه اعمار کابل جدید ادامه می دهد.
یکی از تمویل کننده گان پرژوه اعمار شهر جدید کابل هشدار می دهد که اگر حکومت افغانستان اقدامات لازم را در زمینه تصفیه معضله زمین در ساحات تطبیق این پروژه روی دست نگیرد، این مساله می تواند بر ادامه مساعدت های مالی این اداره تاثیر گذارد.
توشیو کی ایواما یکی از مسوولان اداره همکاری های بین المللی جاپان یا جایکا به روز سه شنبه حین اعلام مساعدت تازه جاپان به اداره انکشاف شهر جدید کابل به رادیو آزادی گفت، حکومت افغانستان باید با افراد که در این منطقه جایداد دارند به طور درست برخورد کند:
"تصفیه زمین باید به گونه مناسب انجام شود، جبران خساره درست صورت بگیرد، با مردم به طور مناسب مشوره گردد، اینها شرایط ما اند زیرا نمی توانیم

بقیه در صفحه ۴

آیا اوباما و رامنی افغانستان را فراموش کرده اند؟

کابل، رسانه ها:
نشریه نیویورکر به این نظر است که مشکلات در داخل افغانستان و ماجراهای روز افزون در این کشور سبب شده است که دو کاندید ریاست جمهوری امریکا در مبارزات انتخاباتی خود از افغانستان کمتر نام ببرند.
نشریه نیویورکر می نویسد، در حالی که سه ماه به انتخابات ریاست جمهوری امریکا مانده است، چرا یک نوع توطئه خاموشی در رابطه با افغانستان در مبارزات انتخاباتی این کشور مشاهده می شود.
نویسنده مطلب در نیویورکر "دیکستر فیل کینس" می نویسد اگر شما به جنگ افغانستان دقت کنید دو کاندید شاید گپ زیاد در مورد آن نداشته باشند که در انتخابات منبع امید برای آنها گردد.
هر کس می تواند در این مورد نظر مختلف داشته باشد، اما دو کاندید یعنی رییس جمهور اوباما از حزب دموکرات و رقیبش میت رامنی از حزب جمهوی خواه. هر دو موقف مشابه دارند، یعنی می گویند که آنها بیشتر به بحران اقتصادی داخلی این کشور توجه دارند.
اما در حقیقت، به نوشته نشریه هیچ یک از این دو کاندید نمی داند که موضوع افغانستان را چگونه مطرح کند.
در حدود ۲۸ ماه ماندهٔ است که امریکا عملاً جنگ را در افغانستان خاتمه بدهد، اما آیا افغانستان واقعاً به یک کشور دلخواه امریکا تبدیل شده است.

بقیه در صفحه ۴

چک جمهوریت د ۲۰۱۷ تر پایه له افغانستان سره ۱۴۰ ملیونه مرسته کوي

کابل، رسنی:
د چک جمهوریت به د ۲۰۱۴ او ۲۰۱۷ کلونو ترمنځ د افغانستان له انکشافي پروژو سره د اتیا ملیون چکي کرونو مرسته وکړي او د ۲۰۱۵ او ۲۰۱۷ کلونو لپاره به د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو ملاتړ ته شپېته ملیون کرونه ځانګړي کړي.
د چک د خبري اژانس د راپور له مخې د دغه هیواد د بهرنیو چارو مرستیال وزیر ایري سیخنیدر(Jiri Schneider) وویل چې له

پاتې ۴ مخ

د ایسا ادارې په مشر لګول شوي تورونه بې اساسه ثابت شول

کابل، رسنی:
د ایسا یا په افغانستان کې د پانګې اچونې د ملاتړې ادارې د وروستي کړکېچ د څېړلو کمیسیون وایي، د دې ادارې په مشر لګیدلي تورونه بې اساسه ثابت شول.
د افغانستان د سوداګرۍ او صنایع وزیر ډاکتر انوارالحق احدي د ټاکل شوي کمیسیون غړی و.
د ده ویاند وحیداله غازي خېل د چهارشنبې په ورځ ازادي راډیو ته وویل؛د ایسا د ادارې پر مشر لګیدلي تورونه له څېړلو وروسته بې بنیاده وګڼل شول:

پاتې ۴ مخ

ګلوبلایزیشن (Globalization) یا نړیوالتوب وپېژنئ

ژباړه: عبدالله کامه وال

ګلوبلایزېشن د انګلیسي له «ګلوبل» (نړیوال) څخه اخیستل شوی دی. د دې لغت معادل په پښتو کې «نړیوالتوب» غوره شوی دی. په انګلیسي کې انټرنېشنل هم د نړیوال معنا ورکوي، ولې ګلوبلایزېشن یا نړیوالتوب، چې کله کارول کېږي، بیا پر نړیوال سربېره یو شمېر مفاهیم له ځانه سره لېږدوي، چې په دې لیکنه کې پرې بحث کېږي.
د نړیوالتوب اصطلاح د لومړي ځل لپاره په (۱۹۳۰م) کال کې وکارول شوه، ولې د شلمې پېړۍ له اوویایمو کلونو وروسته یې استعمال زیات شو. د نړیوالتوب د تعریف په پام کې نیولو سره ویلی شو، چې د نړیوالتوب بهیر هغه مهال پیل شوی، چې کله انسان له خپل کور و کلي ووت او دنړۍ نورو برخو ته یې سفرونه وکړل. دغه ډول سفرونه د و شمېر نورو پېښو لامل کېږي. یعنې کله چې انسانان سفرونه کوي، له ځانه سره بو شمېر افکار نورو ته لېږدوي او له نورو څخه یې خپل کور و کلي ته راوړي.
هغه مهال چې انسان پرمختللې ټکنالوژۍ ته لاسرسی نه لاره، سوداګریز سفرونه یې پر اوښانو ترسره کول، چې دغه سوداګریز سفرونه په خپله کولای شو د نړیوالتوب پیلامه وګڼو. وروسته چې کله انسان وتوانېد ګړندي ټرانسپورتي وسایل، لکه موټر، الوتکه، بېړۍ، رېل ګاډی او ... منځ ته راوړي، د نړیوالتوب بهیر یې لا ګړندی کړ. پر ټرانسپورتي وسایلو سربېره، نورو ارتباطي وسایلو هم لکه، راډیو، تلویزیون، موبایل او دا دی اوس انټرنیټ منځ ته راغلل، ...

پاتې دویم مخ

پاکستان یک عملیات نظامی را علیه طالبان در وزیرستان آغاز میکند



کابل، رسانه ها:
لیون پنتیا وزیر دفاع ایالات متحده امریکا در یک مصاحبه با آژانس خبری اسوشیتد پرس گفته است، پاکستان عنقریب یک عملیات نظامی را علیه پایگاه های طالبان پاکستانی در مناطق قبایلی نزدیک سرحد با افغانستان آغاز می نماید.
وزیر دفاع امریکا گفت، اشفاق کیانی لوی درستیز پاکستان در ملاقات اخیر با جنرال جان الن قوماندان نیروهای ناتو در افغانستان راجع به پلان این عملیات بحث کرده است.
پنیتا گفت، او نمی داند که این عملیات چه وقت آغاز می شود، اما فکر می کند که در آینده نزدیک خواهد بود و هدف عمده این عملیات بیشتر طالبان پاکستانی است تا شبکه حقانی.
بسیاری تحلیل گران به این باورند که پاکستان میل ندارد شبکه حقانی را مورد

بقیه در صفحه ۴

سرمقاله
د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

راځئ د سولې تلپاتي اختر د راوستو زمنه وکړو

الحمدلله موږ افغانان په دې وتوانېدلو چې د الله تعالی له لوری فرض کړی شوی روژې مو په ډېر صبر او استقامت ونیولې او اوس د وړوکې اختر د نمانځلو تیارې نیسو.

لوی او حکیم ذات پخپل سپېڅلی کتاب قرآن کریم کې د روژو د نیولو ستر حکمت تقوی او پرهیزګاري ترلاسه کول ښودلې. تر څو د روژې په مبارکه میاشت کې د روژو په نیولو تقوی ترلاسه او د خپل پالونکی ذات خوښې وګټو.

د الله آخري ستازې او خاتم النبیین حضرت محمد صلی الله علیه وسلم روژې ته د تقوی، همدردي، استقامت، صبر، ګذشت او له نفس سره د جهاد میاشت ویلي دي، زموږ دا روژې به هله د الله جل جلاله د خوښی او رضا باعث ګرځیدلې وي چې بره یادې شوي، موخې او اهداف مو ترلاسه او په دغو غوره صفاتو موصوف شوي یو.

د الله تعالی په نزد زموږ د روژو د قبلېدو پته هله لګیدلې شي چې موږ د روژې میاشتې له رخصتیدو نه وروسته هم د تقوی همدردي، صبر، استقامت او له نفس سره د جهاد لاره تعقیب کړو او ددغه میاشت د روژو په برکت سره زموږ د ژوند په ټولو اړخونو کې یو مثبت بدلون ولیدل شي.

که موږ واقعاً د روژې اصلي موخې او اهداف مو ترلاسه کړې وي نو ددې پایلې او نتیجې باید زموږ په ژوند کې په څرګند ډول محسوسی شي. د تقوی، صبر، همدردي او له نفس سره د جهاد حتمي غوښتنه داده چې په یوه اسلامي ټولنه کې باید خپلمنځي جګړې، اختلافات، ورور وژنه، کینه، بغض، خیانت، فساد، حسد او دښمني په څېر د ناوړو جرمونو تغر ټوله او پرځای د تقوی، اتفاق، یووالې، وروروولی، ایثار، همدردي، زغم او امانت تغره وغوړېږي.

هغه به څه روژه وي چې د تقوی اصل حکمت ترلاسه نه شي او هغه به څه اختر وي چې د وروری، یووالې، همدردي، ایثار، زغم او له یو بل سره د مینې او پیرزوینې په فضاً کې تېر نه شي.

دا څومره د افسوس او بدبختی خبره ده چې زموږ د روژې میاشت هم پخپلمنځیو جګړو او د یو بل د وژلو په کوښښ کې تېرېږي او اختر مو هم په مرګونو، سازشونو او د یو بل د محوه کولو په فکر کې تېرېږي.

د کائناتو خالق او مالک ذات زموږ په لوږه تنده نه خوشالېږي بلکې د روژې په نیولو سره چې په انسان کې د تقوی، الهي ویرې، مواسات، همدردي، صبر، استقامت، منني، اطاعت او بنده ګی کومه ماده پیدا کېږي په هغه خوشالېږي.

الله تعالی د مؤمنانو او مسلمانانو په ټولنه کې امن، آشتي، خلوص، پیرزوینه او مینه خوښوي او دا په هغه صورت کې ترلاسه کېدلې شي چې په انسان کې د تقوی ماده غښتلې او په هغه کې د بنده ګي او غلامي احساس پیدا شي.

د ګردې نړۍ مسلمانانو ته په یو مخصوصه میاشت کې د روژو نیولو یو لوی حکمت دا هم دی چې د پسرلي د موسم په څېر د مسلمانانو په ټولنه کې د تقوی او همدردي ګلونه وغوړېږي هر لورې د امن، آشتي، مینې، اطاعت، ایثار، پیرزوینې او صبر رنګ رنګ ګلونه خپل ځادر وغوړوي او ټول غرونه، رغونه، دښتې او صحراګانې د پسرلې ترانې ووایي، په زړونو کې د حسد، کینې، دښمنی او نفاق شیطاني جرړې وچې او پرځای د (واعتصموا بحبل الله جمیعا ولاتفرقوا) او (انما المؤمنون اخوة فاصلحوا بین اخویکم) الهي حکمونه نقش شي. د تقوی او اطاعت عنصر دومره غښتلې او ځپاند شي چې پخپلو کې د یو بل په خلاف اوچته شوې وسله داسې وغورځوو لکه چې اصحاب کرامو د شرابو د حرمت د آیت له نازلیدلو سره سم د شرابو کنډولې پر زمکه وویشتلې او په کورو کې له شرابو ډکې چاټی ماتې او په ویالو کې وبیولې.

په قرآن کریم کې چې د روژې مقصد تقوی ښودل شوی ده دهغه په مفهوم کې د الله تعالی واقعي اطاعت، له منهیاتو څخه ډډه او پر نفساني خواهشاتو کنترول راوستل شامل دي، لنډه دا چې د الله تعالی د اوامرو او نواهیو په نظر کې نیولو سره په مطلق ډول د خیر او ښېګنې کار کول د تقوی بنسټیز روح دی.

که واقعاً موږ دغه روژې د تقوی د ترلاسه کولو لپاره نیولې وي او یواځینی هدف مو همداوي چې خپل پالونکی ذات خوشاله کړو نو پدې خبره باید ځان پوه کړو چې پخپلو کې د سولې، امن، ورورګلوي، ایثار، همدردي، عاطفې او پیرزوینې له قائمولو پرته، نه د تقوی روح ترلاسه کولې شوو او نه هم د الله تعالی خوښې، تشې روژې به نیسو خو له میوو نه به یې محروم یو.

راځئ ټول په ګډه د زړه له کومې توبه وباسو او د الله تعالی په دغه فرمان چې: (ای مؤمنانو !-تاسې ټول الله ته نصوحه او خالصه توبه وباسئ) له خپل رب سره کلک عهد وکړو چې په روژه کې د مسلمانانو لپاره کوم الهي پیغام او حکمتونه مضمر دي دهغه د خیال په ساتلو سره پخپل جنګ ځپلې هېواد کې د سولې، وروروولی، امن، همدردي، ایثار او عاطفې دایمي اختر راولو تر څو په دې دنیا کې هم د امن، عزت، وقار او پر مختللې ژوند خاوندان شوو او په هغې دنیا کې هم د جنت همیشني نعمتونه او د الله دیدار وګټو.

ګلوبلایزیشن (Globalization) یا نړیوالتوب وپیژنئ

ژباړه: عبدالله کامه وال

(د لومړی مخ پاتي برخه)

...چې د دوی منځ ته راتګ د نړیوالتوب پروسه کې انقلاب ګڼلی شو.

کله چې انسان په مخابراتو او ټرانسپورت کې دومره پرمختګ وکړ، څرګنده ده، چې سوداګري په کې زیاتېږي او له دغو وسایلو په استفاده انسانان کولای شي تر ډېرو لرو پرتو سیمو پورې په کلتوري لحاظ له ډېرو لرو وګړو سره سوداګري ولري. د دغو سوداګریزو سفرونو سره چې کله د مختلفو کلتورونو اړوند انسانان د یو بل هېواد ته ځي، دی له هغو متاثرېږي او هغوی له ده اغېزمنېږي. نه یوازې سفرونه، اوس د ډله ییز ارتباط وسایل، لکه تلویزیون یا انټرنیټ په زرګونه کیلومتره لرې خلک په کلتوري لحاظ له یو بله متاثروي. د بېلګې په ډول، نن زموږ د ټولنې د پام وړ وګړي د امریکا سي.ان.ان تلویزیون، واشنګټن پوسټ، نیویارک ټایمز اخبارونه او نیوزویک او ټایمز مجلې ګوري او لولي، چې په نتیجه کې له هغو متاثرېږي.

د یادو پرمختګونو په نتیجه کې نن دنیا یو «ګلوبل» یا نړیوال کلی ګڼل کېږي. ځکه د دې نړیوال کلي په یوې لرې برخه کې که یوه پېښه کېږي، په بله برخه کې ترې په څو شېبو کې نور خبرېږي او کېدای شي متاثر هم شي. مثلاً، د سپتمبر د یوولسمې پېښې، چې په ټوله سیمه بلکې نړۍ یې اغېز وکړ. دغه وړ پېښه پخوا شونې نه وه؛ که پېښه شوې هم وای، شاید پس له ډېره وخته ترې خبر شوي وو او ممکن نه و چې زرګونه کیلو متره لرې یې موږ اغېزمن کړي وو.

د نړیوالتوب تعریفونه

د نړیوالتوب اصطلاح هم د ټولنیزو علومو د ګڼو نورو اصطلاحاتو په څېر یو ټولمنلی تعریف نه لري. مختلف پوهان ورته د خپل فکر او ګروهې سره سم مختلف تعریفونه کوي. نړیوالتوب تر ډېره یوه لانجمنه مسئله ده، چې څوک یې ګټور او څوک مضر ګڼي.

یو شمېر پوهان یې نوی استعمار ګڼي، چې پرمختللي یا د استعماري پېر دولتونه غواړي له دې لار یو ځل بیا دغه هېوادونه تر خپل اغېز لاندې راولي. ځینې یې د نړیوالې سوداګرۍ پر وړاندې د خنډونو له منځه وړل او د آزاد بازار دودول بولي. نامتو مسلمان عالم، علامه قرضاوي نړیوالتوب داسې تعریفوي:« نن ورځ نړیوالتوب په ډاګیزه ډول د لوېدیځ جوړولو په معنا ده یا په بله معنا د دنیا امریکایي کول دي. همدا ښکلې اصطلاح «نړیوالتوب» یې د استعمار کولو لپاره په کار اچولې ده؛ داسې اصطلاح چې پخوانی طریقه هېروي او د دې تر سیوري لاندې پر نړیوالو خپله ولکه ټینګوي».

د نړیوالتوب لپاره تر یوه بریده ټولمنلی تعریف داسې شوی:« دا [نړیوالتوب] یوه دوامداره پروسه ده، چې سیمه ییز اقتصادونه، ټولنې، کلتورونه، نړیوال بعدونه پیدا کوي، یو له بل سره مدغمېږي، د نړیوال پوهاوي، اړیکو، ټکنالوژۍ او علم د پرمختګ له امله ملي اقتصادونه په نړیوال اقتصاد کې مدغمېږي»

د ټکنالوژۍ پرمختګ، د نړیوالتوب عمده محرک

ټکنالوژۍ په تېرو پنځوسو کلونو کې د پخوا په پرتله بې حده وده کړې ده، چې له دې بې ساري پرمختګه په استفادې د انسانانو تګ راتګ او سفرونه خورا زیات شوي؛ په پایله کې د نړیوالتوب بهیر د پام وړ ګړندیتوب موندلی دی. د تاریخ نوي فیصده)

٪۹۰)ټکنالوژیکي پرمختګ او کشفیات و اختراعات له ۱۸۰۰م کال راهیسې ترسره شوي دي. دغه بې ساري پرمختګونه د راشه درشې عمده لاملونه دي. نن ورځ هره شېبه ۵۰میلیونه وګړي په الوتکو کې د سفر په حال کې دي. دا لا معلومه نه ده، چې د ریل ګاډي، بېړیو او موټرو له لارې به څومره انسانان د سفر په حال کې وي؟ دغو راشه درشو ځان سره د ایډیالوژیو، افکارو او کلتورونو د لېږد بهیر چټک کړی دی.

په ۱۹۸۵م کال کې د امریکا له متحده ایالتونو څخه بهرنیو هېوادونو ته ۴۲۵میلیونه تیلیفونونه شوي دي. دغه شمېره په ۲۰۰۹م کال کې ۶بلیونو ته لوړه شوه. له دې سره-سره څومره نوي ارتباطي وسایل منځ ته راغلي، لکه، ګړندی الوتکې، ریل ګاډي، ګرځنده تیلیفونونه، راډیو، تلویزیون، انټرنیټ او په انټرنیټ کې ټولنیزې شبکې (فیسبوک، ټویټر...) او ... دا ټول هغه وسایل دي، چې د دوی د منځ ته راتګ له امله اوس که د نړۍ حتی په لرې سیمه کې کومه پېښه کېږي، د نړۍ نورې سیمې ترې متاثرېږي. د دې خبرې ښه بېلګه د ۲۰۱۱م کال له لومړیو راهیسې په عربي نړۍ کې روان پاڅونونه دي، چې د دغو سیمو د ډېرشو، ځلوښتو کلونو واکمن د فیسبوک له لارې له منځه ولاړل. دغه پاڅونونه د فیسبوک د اوښتونونو په نامه مشهور شول. همدا راز په ۲۰۰۹م کال، کله چې په ایران کې لانجمنې ټاکنې ترسره شوې او خلکو په لاریونونو لاس پورې کړ، واکمن رژیم پر انټرنیټ او کله پر فیسبوک بندیزونه ولګول. د دغو نا آشنا پرمختګونو په نتیجه کې اوس د هېوادونو ترمنځ پولې له منځه تللي، ځکه نو ځینې اوس نړۍ «ګلوبل ویلیج» یا نړیوال کلی بولي.

د نړیوالتوب مختلف اړخونه

د یادو پرمختګونو په نتیجه کې په نړۍ کې یو لړ بدلونونه تر سترګو کېږي. په دغو بدلونونو کې تر نورو څرګند هغه یې اقتصادي، سیاسي او کلتوري اړخونه دي، چې هر یو به په لنډ ډول وڅېړو:

د اقتصاد نړیوالتوب

د اقتصاد نړیوالتوب کې مهمه مسئله د سوداګرۍ ده. د ارتباطي وسایلو د زیاتېدا په صورت کې د ټکنالوژۍ له اړخه سوداګرۍ ته ډېره مناسبه زمینه برابره شوې ده؛ ولې اوس د اقتصاد د نړیوالتوب د لارې خنډ د دولتونو له خوا مالیات دي. د نړیوالتوب پلوي مفکرین په دې باور دي، چې باید دولتونه د نړیوالې سوداګرۍ پر مخ د خپلو هېوادونو پولې پرانیستي پرېږدي، څو نړیوال تولیدات وکولای شي په ټیټه بیه زموږ تر کورونو ورسېږي.

مخ پر ودې او وروسته پاتې هېوادونه دې کار ته زړه نه ښه کوي. ځکه که دوی پر نړیوالو تولیداتو مالیات کم یا بیخي لرې کړي، بیا نو د دوی خپل تولیدات له ماتې سره مخ کېږي. د بېلګې په ډول، که افغانستان ته امریکایي تولیدات په ارزانه بیه راشي او په همدې بیه افغاني تولیدات هم وي، څرګنده ده چې خلک به د امریکایي تولیداتو د رانیولو هڅه کوي، نه د افغاني. په نتیجه کې به افغاني شرکت په طبیعي ډول له کار او فعالیته ولوېږي او افغانستان به په یو مصرفي هېواد بدل شي (لکه اوس چې دی). همدا لامل دی، چې د سویلې آسیا د همکارۍ ټولنه د هند او پاکستان د رقابتونو له امله پر دې نه ده توانېدلې، چې د غړو هېوادونو ترمنځ د آزاد بازار تړون لاسلیک کړي. پاکستان د دې تړون مخالف دی. ځکه پاکستانیان پوهېږي چې که هندي مالونه د دوی هېواد ته له مالیې پرته داخل شي، بیا به د دوی خپل تولیدات (چې طبعاً له هندي هغه به بې کیفیت ټیټ وي) پېرېدونکي نه لري.

د اقتصادي نړیوالتوب په هکله نړیوال ګڼ ملتیز شرکتونه هم مهم رول لري. نړیوال ګڼ ملتیز شرکتونه په ټولیز ډول غربي شرکتونه دي، چې له آزاد بازاره په استفادې کولای شي د دریېمې نړۍ په وروسته پاتې هېوادونو کې له ارزانې ځمکې، ارزانه اومه موادو او همدارنګه ارزانه کارګر نه په استفادې خپل تولید منځ ته راوړي او د همدې هېوادونو پر وګړو یې په لوړه بیه وپلوري. دلته یوازې د ګټې خبره مطرح نه ده. دغه ګڼ ملتیز شرکتونه د هېوادونو پر سیاستونو په ډېرې آسانۍ سره اغېز شیندي. دوی خپلې پانګې د ویستو)یعنې دولتونه ګواښي چې که د دوی ځانګړې غوښتنې و نه منې، نو دوی به خپلې پانګې وباسي، چې د پانګې ویستل د دولت پر اقتصاد ډېرې بدې اغېزې لري(او نورو ګواښونو په واسطه کولای شي د دریېمې نړۍ حکومتونه ځان ته ابل کړي.

په اقتصادي نړیوالتوب کې د نړیوالو موسسو څرګند رول دی. د بېلګې په ډول، نړیوال بانک، د سوداګرۍ نړیواله موسسه او د پیسو نړیوال صندوق. دغه درې واړه موسسې وروسته پاتې او مخ پر ودې هېوادونو ته پورونه ورکوي، چې د سود ځانګړې فیصدي په کې وي. د دغو موسسو اداره د اروپایي او غربي هېوادونو په لاس کې ده. دوی چې کله پورونه ورکوي، پر دغو هېوادونو خپل شرایط هم مني. معمولاً دوی داسې شرایط تپې چې د هغو په نتیجه کې د پور اخیستونکو هېوادونو لاسونه او پښې ترل کېږي؛ بیا دوی کولای شي په آسانۍ سره پر دغو هېوادونو خپلې غوښتنې ومني.

د نړیوالو اړیکو یو شمېر کارپوهان په دې باور دي، چې د استعماري پېر له پای ته رسېدو سره، نویو آزادو شوو هېوادونو سیاسي خپلواکي ترلاسه کړې، ولې په اقتصادي اړخ کې یې بیا هم لاسونه پخوانیو استعماري هېوادونو ته غزېدلي پاتې شول. استعماري هېوادونو د دوی د بیا ابل کولو لپاره دوه کاره وکړل: لومړی یې د نویو آزادو شوو هېوادونو واکې څو بې کفایته او خپلو لاسپوڅو کورنیو ته پرې ښودې او له بلې خوا یې د دغو سوداګریزو موسسو پر مټ دوی ته د پورونو په ډول بې خرته پیسې خوشې کړې. په دغو هېوادونو کې تر دې دمه داسې رهبري منځ ته نه ده راغلې چې له دغو پورونو د خپلو هېوادونو لپاره کار واخلي، د فساد لوړه کچه د دې لامل شوه، چې لا هم د استعماري هېوادونو په ګروت کې پاتې شي.

د دریېمې نړۍ یا اسلامي نړۍ هېوادونو ته د ژغورنې ښه لار همدا ده، چې په خپلو منځنو کې (سویل-سویل) اقتصادي همکاری وکړي. ځکه دوی په لږ توپیر سره کولای شي یو له بله د پام وړ اقتصادي ګټې ترلاسه کړي. دوی کولای شي د اروپایي اتحادیې په څېر په خپلو منځنو کې دغه وړ د اقتصادي همکاریو ټولنې جوړې کړي؛ ولې دلته بیا د رهبری د بحران خنډ دی، چې د دې لرې کول څه آسانه کار نه دی. (نور بیا)

د روحنګيايي مسلمانانو په عامه وژنه دنيا ولې غلې ده ؟!

محمد خليل

د برما (ميانمار) شمال غرب ته د پرتې سيمې نوم اركان دی، دلته چې کوم مسلمانان اوسېږي هغوی د روحنګيا په نوم يادېږي. روحنګ د رحم له لفظ نه مشتق دی، يعنې همدردي کوونکی خلک، دغې سيمې ته مسلمانان په اتمه عيسوي پيړی کې راغلی دي، کله چې عرب تاجران او ملاح (کشتي چلوونکي) چين ته تګ او راتګ کاوه نو ځينې تاجران د برما په روحنګيا کې ميشت شول. دهغوی ښه سلوك او همدردي په ليدو ځايي اوسېدونکو هغوی روحنګيا يعنې رحم کوونکی خلکو په نوم يادول، که څه هم د ډېر وخت د تېرېدو له کبله په روحنګيايي مسلمانانو کې د عربو کوم رسم او رواج نه دی پاتې البته روحنګي ژبه په عربي رسم الخط هم ليکل کېدی شي چې همدا يواځينې يادګار په توګه ورته پاتې دی، د اراکان په مسلمانانو کې د چين يونان نومې ولايت او د هندوستاني او بنګالي نسل مسلمانان هم شامل دي، په برما کې د روحنګيايي مسلمانانو ټول نفوس له لسو لکو نه زيات دی.

د برمايي مسلمانانو په خلاف متعصب بت پرستانو دښمني او يرغل د تيری پيړی له دويمې لسيزې نه پيل او د وخت په تېرېدو خپل آخري سرحد ته ورسېد.

۳۵ کاله وړاندې چې د برمايي مسلمانانو په خلاف بت پرستانو کوم له قهر او غضب نه ډك يرغل کړی و په هغه کې د زرګونو مسلمامانو د وينې بيولو ترڅنګ دوه لکه مسلمانان يې هم بنګله ديش ته په هجرت کولو اړ کړي ول، بيا په کال ۱۹۹۲ ع کې يو بل خونړی يرغل وکړ چې د زرګونو مسلمانانو په سر، مال، عزت او آبرو له تيری وروسته يونيم لك مسلمانان يې په زوره له خپل هېواد نه بې کوره او پرديو هېوادو ته هجرت کولو ته مجبور کړل، بيا په کال ۱۹۹۷ ع کې دوه نيم زره برمايي بت پرستانو د ډن او منډالی نومې ښارو کې د اوسېدونکو مسلمانانو په خلاف لويه مظاهره وکړه، مسجدونه يې وسوځول، کورونه او دوکانونه يې چور او تالان او بيا يې ورته اور واچول او په دې توګه د برما روحنګيايي مسلمانانو ته يې لوی مالي تاوان ورساو. بيا په ۲۰۰۱ ع کال د مې په پنځلسمه بت پرستو مذهبي مشرانو د ټا او نګر په ښار کې د مسلمانانو په ضد پمپلټونه وويشل او د لمر له پريوتو وړاندې پر مسلمانانو داسې ناڅاپي يرغل وکړ چې د سترګو په رپ کې د زرګونه مسلمانانو له شهيدانولو وروسته ټول مال او حال يې تالان او پر ښځو يې جنسي تيری وکړ.

د موثقو راپورونو په استناد تراوسه پورې له پنځوس زرو نه زيات روحنګيايي مسلمانان د ظالمو او بې رحمو بت پرستانو له لاسه په شهادت رسيدلي دي. شاوخوا ۶۶ زره روحنګيايي مسلمانان د بنګله ديش او تهايي سينه سرحدي سيمو ته څېرمه تر شنه آسمان لاندې له خوراك، څښاك نه محروم ژوند تېروي او هره ورځ د لسګونو په تعداد کې د خوراك او د ژوند د نورو ضروورياتو د نشتوالی له کبله خپل ژوند له لاسه ورکوي. د برما پر مسلمانانو د بت پرستانو تازه حمله چې څو اوونۍ وړاندې ترسره شوه په دې کې له اتو زرو نه زيات مسلمانان يې په شهادت رسولی او سلګونه کلي يې ورته سوځولي دي، په راپورونو کې ويل شوي دي چې د زرګونو په تعداد کې مسلمان ځوانان يې په زوره تښتولي او بيا يې په پوره بې رحمی وژلي او په اور کې يې سوځولي دي چې د انټرنټ په ويب سايټونو کې خپاره شوي انځورونه او تصويرونه ددغې ادعا څرګند ثبوت وړاندې کوي، په تصوير کې برمايي ظالم او وحشي بت پرستان د زرګونو روحنګيايي مسلمانانو د بربنډو لاشونو په منځ کې ډېر خوشاله ولاړ دي او اور ورته اچوي.

د تازه خبرونو مطابق اوس په برما کې په دې کار روان دی چې د برما ټول ځلوېښت لکه مسلمانان په زور او جبر سره د خپل دين پرېښودو ته اړ کړی شي، هغوی ته ويل کېږي چې يا خپل دين پرېږدئ او يا هم خپل مرګ ته تيار شئ، هغوی ته په زوره د خوراك څښاك لپاره د خنزير غوښه او شراب ورکول کېږي، لمونځ، روژه او نور عبادت ته نه پرېښودل کېږي، هغوی ته يې اخطار ورکړی چې که کوم مسلمان د روژو نيولو کوښښ وکړي نو هغوی به د ترهګر په نوم وژل کېږي. لنډه دا چې د برما بت پرست حکومت او مذهبي مشرانو په ګډه د مسلمانانو د نوم او نښان د ختمولو قسم خوړلی دی او نه غواړي چې څوك هلته د مسلمان په نوم ژوند وکړي، خو د حيرانتيا خبره داده چې د بشر د حقوقو عملبرداران د برما د بت پرست حکومت ددغه ظالمانه او غير انساني عمل په وړاندې داسې غلې دي لکه چې هېڅ نه وي شوي.

په ځنګلونو کې د ځنګلي ځناورو پر ښکار خو د اعتراض غږونه اوچتېږي مګر د برما د مسلمانانو پر نسل کشي څوك غوږ قدرې هم نه ږوي، ددې يواځينی علت همدا مخې ته راځي چې د بشر د حقوقو د علمبردارانو په نزد مسلمانان له ځنګلي ځناورو څخه هم بدتر او دهغوی وژل مباح عمل دی.

د بشر د حقوقو هغه لوی بيرغچيان چې هر وخت د بشر دوستۍ ترانې زمزمه کوي آخر ولې د برمايي مسلمانانو د نسل کشي د مخنيوی لپاره خپل اثر او رسوخ نه استعمالوي؟ ولې د ملګرو ملتونو ادارې خپلې شونډې ګنډلي او ددغه ظالمانه کړنې د بندولو لپاره فشار نه اچوي؟ !

که د نړۍ لوی طاقتونه او د ملګرو اداره په برما کې د مسلمانانو د عامې وژنې په خلاف خپل اثر او رسوخ استعمال نه کړي او د تېر په څېر خپلې تماشې ته ادامه ورکړي نو دا خبره دې د کاڼې کرښې وګڼي چې د نړۍ په هر ګوټ کې به نسلي، مذهبي، ژبني او سمتي جګړو لمبې پورته او د نړۍ نسبي امن به تباه او برباد کړي چې د تباهی په دې اور کې به نه يوازې مسلمانان بلکې د غرب، شرق، شمال او جنوب ټول انسانان به ستي کېږي. ښه به دا وي چې د ملګرو ملتو اداره او ددې دائمي غړی هېوادونه په برما کې د مسلمانانو د نسل کشي د مخنيوی او دهغوی قانوني حقوقو د تحفظ او اعادې لپاره خپل مسؤوليت په صحيح توګه ترسره کړي تر څو په ټوله نړۍ کې ددغه اور د خبرېدو مخه پر وخت ونيول شي او نړۍ د دا ډول مذهبي او نژادي جګړو له تباهی نه وساتل شي.

تجربه

دوکتور عبدالوهاب "حسام"

درېيمه برخه
(تېر پسې)

اتمه تجربه: زه د عربي ژبې استاذ يم او مختلفو ټولګيو ته درس ور کوم، په زده کوونکو کې ډېر د تعصب په مصيبت اخته کسان هم شته، څوك د پښتو ژبې بندګان دي او څوك د دري هميشه په صنف کې يو نه اعتراض يو اعتراض را پورته کوي، د درس په جريان کې يو محصل لاس پورته کړ، دا محصل په ژبني تعصب کې تر ستونی غرق و، ما داسې فکر و کړ چې دی به حتمي کوم سوال لري، نو ورته مې و ويل: مهرباني، ده راته و ويل: استاذه ! عربي ژبه کې مرده ګاو ته څه وايي؟ د دې محصل دا سوال زما لپاره يوه داسې صدمه وه چې زما له ذهن نه يې هر څه و ويستل او زه يې تر ډېره حده حيران کړم او په دې سوچ کې شوم چې ده ته اوس څه و وايم؟ بيا مې و خندل او و مې غوښتل چې لږ يې په صريحه کنايه کې پوه کړم، ورته مې و ويل: يو چا پښتون ته وويل چې په پښتو ژبه کې مرده ګاو ته څه وايي؟ هغه ورته ويلي و چې په پښتنو کې مردګاو نه شته، نو په دې خاطر د مرده ګاو کلمه نه استعمالېږي او نه ورته څه ضرورت شته، ټولو محصلينو ورته و ويل: اوس يې خوند در کړ؟ دې پخپله و ويل: مزاق بند است. بيا مې ورته د سوره نساء ۱۴۸ ايت و لوست او ورته مې و ويل: چې الله پاك د بدو الفاظو استعمالول خوښ نه ګڼي، او ته يو ځوان سړی يې ته بايد د نورو لپاره ښه نمونه واوسي.

نهمه تجربه: زه هميشه دا کوښښ کوم چې خپل درس ته اسلامي مأخذونه و ټاکم او يا په يو شکل د اشکالونه خپله موضوع له دين سره و نښلوم؛ دا ځکه چې په افغانستان کې د صنف فضا د ډيرې مودې راهيسې له ديني او معنوي روحيې نه لوڅه پاتې شوې او همدا وجه ده چې زمونږ د ځوانانو ډيری برخه قرآن لوستلی نه شي او اجتماعي کردار يې په لوړه کچه ضعيف دی. ما د مشاور معلم تر عنوان لاندې د دارالمعلمينو د استاذانو سره درس درلود او د مشورې د اهميت په خاطر مې يو حديث چې په هغه کې مشوره او استخاره دواړه ذکر شوي (ما خاب من استخار و لا ندم من استشار) دليل وړاندې کړ، د استخارې لمونځ ته مې اشاره و کړه، او د دې تر څنګ مې استاذانو ته د خپل يو همصنفي قصه و کړه، هغه داسې وه چې، زه يوه ورځ د دې همصنفي کوټې ته ورغلم، ټکټك مې و کړ او دروازه مې خلاصه کړه، ګورم چې د کوټې خاوند ژاړي، نو دروازه مې ژر بيرته را بنده کړه او واپس شوم، دا همصنفي مې راووت او غږ يې را وکړ چې راځه، بيرته ور ستون شوم، له يوې لنډې ناستې وروسته مې ورته و ويل: ولې دې داسې بې چرته ګورم ! الله دې خير کړي؟ ده راته و ويل: له هغې انجلۍ نه چې (زما او د ده همصنفي) د واده غوښتنه کړې وه خو هغه خواب کړی يم، نو ما ورته وخندل او ورته مې و ويل: نورې انجونې کمې دي، چې ته ورته دومره ژاړې؟ ده وويل: شته خو د دې په شان نه. بيا ما په يو مناسب فرصت کې د هغې همصنفی نه پوښتنه و کړه چې ولې دې فلانکی ځواب کړی؟ هغې راته و ويل: يواځې دې له ماسره د واده اراده نه لاره بلکې يو بل هم زما ته تمه و، مګر زه چې کله عمري ته ولاړم او هلته مې استخاره لمونځ و کړ نو خوب مې وليد، چې زه له سعودي نه خپل کورته راځم او دا دواړه ځوانان زما د استقبال لپاره ميدان ته راغلي دي، دا ځواب شوی هلك په ما پسې ډير ترور ترور ګرځيده او منډې را منډې يې وهلې چې ما راپيدا کړي، ما هغه ليده خو هغه زه نه ليدلم، او هغه بل په يو ځای کې ارام ولاړ و، هم يې زه ليدلم او هم ما ليدلو، نو زه دې نتيجې ته ورسيدم چې د دې هلك سره زما واده نه کيږي او هغه بل سره امکان لري، نو دی مې ځکه ځواب کړ، وروسته هغې جنۍ د هماغه ارام ولاړ هلك سره واده وکړه او تر اوسه يو ځای دي او ډير بچيان هم لري. په استاذانو کې هم ډير مريضان خلك شته د دوی نه يو چا و ويل: دا جنۍ به ډيره ښايسته وه نو ! زه پوه شوم چې دی اوس ما بل چيرت بيايي، او په دې صنف کې ښځينه استاذانې هم وې په عين حال کې هغه خويندو ته چې په صنف کې موجودې وې يو نوعه استفزازي اشاره هم کوي، خو ما دا فرصت ور نه کړ او ورته مې وويل: ځوانې پخپله يو ارزښتناك ښايست دی. ټولو استاذانو و ويل بيشکه.

لسمه تجربه: زما زوی په يو شخصي مکتب کې درس وايي، هره ورځ به يې راته د خپلو همصنفيانو قصې کولې، چې دوی په ورځ کې څومره روپۍ په مکتب کې مصرفوي. شخصي مکتبونه خو له يوې خوا د همدې موخې په خاطر جوړ شوي دي، د بلې خوا زمونږ له خلکو سره پيسې هم پيدا شوي، په دې غم کې نه دي چې مکتب کې څه شته او که نه خو خپل ماشومان ورليږي. يوه ورځ سهار زه دې شخصي مکتب ته ولاړم، يو معلم راته قصه و کړه، چې همدا اوس مې د لومړي ټولګي د يو زده کوونکي د جيب نه ۵۰۰۰ روپۍ ايستلي او پلار ته مې چې د دې خبرې په اړه تيلفون و کړ، هغه ځان بې خبره وښود. لنډه دا چې ما به خپل زوی ته ويل: چې له هغوی سره پيسې ډيرې وي ځکه به يې خوري. زما زوی هره ورځ په مکتب کې ۱۰ افغانی مصرفوي، يوه ورځ يې راته و ويل: لا لا ۵۰ روپۍ ډيرې دي؟ زه پوه شوم چې دی وايي که زه د ورځې پنځوس روپۍ په مکتب کې و خورم دا به ډيرې وي؟ ! ما ورته و ويل: يواځې پنځوس روپۍ ډيرې نه دي، خو که ته دا په ديرشو کې ضرب کړی نو څو کيږي؟ هغه مسکی شو او ويې ويل: بيا خو ډيرې شوی. د هغې نه وروسته بيا ماته زوي کله هم د همصنفيانو د مصرف خبره ونه کړه او نه يې راته ښځايه پيسې وغوښتې.

(نور بيا)

مرور بر مطبوعات جهان

وزرای مهم حکومت افغانستان زیر فشار قرار دارند

روزنامه امریکایی نیویارک تایمز، در مورد شماری از وزرای مهم حکومت افغانستان که به فساد اداری متهم شده اند، مقالهء را نشر کرده است.

روزنامه می نویسد: وزرای دفاع، داخله، معادن و مالیه افغانستان که برای پلان خروج نیرو های بین المللی و پیشرفت های درازمدت در افغانستان، موقف مهره های اصلی کمر را دارند، در این اواخر زیر فشار های سخت قرار گرفته اند.

نیویارک تایمز می گوید: قضایای اصلی این وزرا، ریشه های سیاسی دارد اما در مجموع این موضوع نظریهء را تقویت می کند که روابط حساس غرب با حکومت افغانستان، در آینده بیش از این پر تنش خواهد شد.

یک دیپلومات غربی به روزنامه گفته است که این چهار وزیر با جامعه بین المللی روابط گسترده دارند و کسانی اند که غرب با آنها به صورت مشترک کار می کند.

این دیپلومات در ادامه گفته است: ما باید با خود و با افغان ها صادق باشیم و آنها را تشویق کنیم تا در مورد اتهامات وارد شده بالای این وزرا، تحقیق همه جانبه را انجام دهند.

نویسنده مقاله نیویارک تایمز در همین مورد، از بحث های جدی ماه جولای در کابینه افغانستان یاد آوری کرده که در خصوص چگونه گی قانون معادن صورت گرفته بود.

وحید الله شهرانی وزیر معادن افغانستان در دفاع از قانون فعلی گفته که بر اساس همین قانون، زمینه های زیاد برای سرمایه گذاری گسترده در بخش معادن افغانستان فراهم می شود.

اما شماری از وزرا با این نظر مخالفت و استدلال کرده بودند که با نافذ بودن این قانون، بیشتر منافع معادن افغانستان را خارجی ها به دست میاورند.

به نوشته روزنامه، رییس جمهور کرزی به صورت آشکار، از وزرای انتقاد کننده در این مورد حمایت کرده بود.

جایکا: مشکلات زمین در کابل ...

که مردم را جبراً اخراج کنیم.

برای حکومت افغانستان لازم است که به گونه مناسب با افراد که به خاطر اجرای این پروژه متضرر شده اند، برخورد نماید. "

آقای ایواما افزود که جاپان از طریق اداره جایکا در گذشته حد اقل ۵ ملیون دالر را به اداره انکشاف شهر جدید کابل کمک کرده است.

در این حال مسوولان اداره انکشاف شهر جدید کابل می گویند که از ۱۴ میلیون دالر کمک تازه جایکا در اعمار ۱۲ کیلومتر سرک به طور مرحله وار در ساحات پارسل اول شهر جدید کابل استفاده خواهد شد.

دیپلوم انجنیر غلام سخی حسن زاده رییس اجراییوی اداره انکشاف شهر جدید کابل گفت که بحث های آنان با وزارت مالیه در راستای استملاک زمین به گونه درست ادامه دارد.

وی در بخش از حرف هایش گفت که بخش اعظم از زمین ها در ساحه باریک آب تصفیه شده و هیچ کس حق ندارد که در این محل به طور خود سر اقدام به اعمار خانه نماید:

"زمین های ساحه باریک آب از سوی وزارت زراعت ملکیت دولت اعلام شده است.

در این منطقه زمین های شخصی موجود نبوده بلکه تمام آن زمین های دولتی است

در یک بخشی از این ساحه تقریباً ۵ هزار جریب زمین است که از سوی وزارت مهاجرین برای عودت کننده گان اختصاص یافته است، سایر زمین ها قسیمکه گفتم دولتی است. "

مسوولان اداره انکشاف شهر جدید کابل می گویند که پروژه اعمار این شهر در سه مرحله تطبیق خواهد گردید.

به گفته آنان تا ماه حمل سال آینده شمسی کار اعمار ۸۰ هزار واحد مسکونی از سوی سکتور خصوصی آغاز می شود.

قبلاً گفته شده بود که شهر جدید کابل در منطقه ده سبز و باریک آب در مساحت ۲۵۰ هزار جریب زمین تخمیناً طی سی سال اعمار می گردد.

د ایسا اداري په مشر لګول شوي ...

"د ایسا د کړکېچ د څېړلو لپاره چې کوم پلاوی ټاکل شوی و، د اوو تنو استعفا کوونکو دلایل يې وڅېړل، پلاوي له څېړلو وروسته ومونده، چې په هغه اداره کې فساد او داسې نور غیرقانوني کړنې نه دي شوي او کومې مقررۍ چې په کې شوي هم د ازاد رقابت له لارې شوي او هم له رقابت نه پرته شوي، چې دا ډول مقررۍ د ایسا د تیر مشر په وخت کې هم شوې دي. "

څه باندې میاشت مخکې د ایسا د اداري اووه تنو مهمو کارکوونکو د دې له امله چې د ایسا نوی رییس وفیع اله افتخار، ور کدر نه دی او همدارنګه یې په لږه موده کې یولړ غیرقانوني ټاکنې هم کړي دي.

دوی له همدې امله په ډله ییزه توګه له خپلو دندو استعفا ورکړې او له جمهور رییس نه يې وغوښتل؛ چې د دې اداري د کړکېچ اوارې ته دې اقدام وکړي.

جمهوررییس کرزي د مسالی څېړلو ته دعدلي، اقتصاد او سوداګري او صنایعو وزیران، د فساد پر ضد د اداري او لویې څارنوالۍ مرستیالان د یو کمیسیون په توګه وګمارل؛ څو د ایسا د اوو کارکوونکو د استعفا دلایل وڅېړي.

روح اله احمدزی، غلام رباني منصور، بریالی ملیار، عمر جویا، سلیمان اکبري، میرتوفیق انصاري او عبدالغفار رسین د دې اداري هغه مهم کارکوونکي دي، چې په ډله ییزه توګه یې استعفا کړې وې.

ازادي راډیو هڅه وکړه، چې د مسالې په هکله د استعفا کوونکي نظر ولري خو تلفونونو ته يې ځواب ونه ویل شو.

ایسا یا د افغانستان د پانګې اچونې ملاتړه اداره په کال یوزرو درې سوه یو اتیایم کال کې جوړه شوه.

راپورونه وایي، دې اداري د خپل کار په موده کې شاوخوا نهه میلیارده ډالره کورني او بهرني پانګې جلب کړي دي.

کارپوهان وایي، د هېواد د اقتصاد پراختیا تر ډېره ځایه همدې اداري پورې تړلې او په کار ده؛ چې د دې اداري ټول فعالیتونه شفاف او هرډول حساب ورکونې ته چمتو وي.

چک جمهوریت د ۲۰۱۷ تر ...

افغانستان سره به د چک جمهوریت د مالي مرستو اندازه د تېرو کلونو هومره وي.

ده زیاته کړه، له افغانستان سره د چک جمهوریت د مرستې نوی پلان سږ کال په شیکاګو کې د ناټو د سرمشریزې د موافقې پراساس جوړ شوی دی.

ده په عین حال کې یادونه وکړه چې په افغانستان کې د چک جمهوریت پوځي حضور مخ پر کمېدو دی. د چکي پوځیانو، چې په لوګر او وردک ولایتونو کې ځای پرځای دي، شمېر به په راتلونکو دوو کلونو کې لږ شي.

چک جمهوریت د مرکزي اروپا یو کوچنی هیواد دی. دا هیواد، چې مرکز یې پراګ دی، لس ملیونه پنځه لکه ۶۲ زره نفوس لري او مساحت يې ۷۸ زره اته سوه شپږ شپېته کیلومترمربع دی.

سیخنیدر وویل، په لوګر کې به د چک جمهوریت د ولایتي بیا رغونې ټیم خپل ماموریت د راروان ۲۰۱۳ کال په لومړیو کې پای ته ورسېږي.

خو چک جمهوریت به له ۲۰۱۴ وروسته هم په افغانستان کې د امنیت او پرمختګ د چارو ملاتړ ته دوام ورکړي.

د چک جمهوریت ولسمشر واځلاف کلاوس نن په افغانستان کې د چک د پوځي ماموریت او د چک او روسیې د اړیکو په اړه د خپل هیواد د ملي امنیت شورا په غونډه کې ګډون وکړ. ده د غونډې د نتیجو په اړه څه ونه ویل.

آیا اوباما و رامنی افغانستان ...

به نوشته نشریه، وقایع چند روز اخیر چنین نشان می دهد که امریکا هنوز در افغانستان به هدف خود نرسیده است.

نشریه موضوع استیضاح وزرای دفاع و داخله افغانستان را مطرح نموده و می نویسد که این دو وزیر بخاطر فساد اداری بیش از حد در ادارات شان بی کفایتی و خویش خوری سلب اعتماد شدند.

وزیر داخله به این هم متهم شد که تمام وزارتش را از یک قوم و یک جناح سیاسی خاص پر کرده که در صورت خروج قوای امریکا از افغانستان موازنه قدرت را در این کشور برهم خواهد زد.

موضوع دیگری که نشریه به آن اشاره می کند، اتهامات فساد علیه وزیر مالیه افغانستان است.

نویسنده که چندین بار با وزیر مالیه افغانستان شخصاً صحبت کرده می نویسد، اسنادی را که تلویزیون طلوع بر علیه وزیر مالیه نشان داد اکثراً اسناد اصلی بودند که وزیر مالیه افغانستان هم از آن انکار نکرده است.

نشریه جزیات تمام این اسناد و استدلال وزیر مالیه و موقف تمام جناح ها را بررسی کرده و می نویسد که به هر شکلی که باشد این یک ماجرای دیگر در نظام افغانستان است.

اما نشریه می پرسد که چرا این همه ماجرا های افغانستان باید برای مردم امریکا اهمیت داشته باشد؟

در پاسخ به این پرسش نشریه نیویورکر می نویسد، بیاید موضوع را از یک زوایه دیگر ببینیم. بعد از ۴ صد ملیارد دالر مصرف و کشته شدن ۲ هزار امریکایی در افغانستان آیا امریکا خواهان به قدرت رسیدن چنین یک حکومت معیوب و فاسد، در این کشور بود.

نشریه سوال می کند، یک سیستمی که در وقت حضور امریکا نمی تواند به پای خود بی ایستد، بعد خروج قوای آن چه خواهد شد؟

شاید امروز مردم نخواهند و یا نتوانند درست در مورد آن قضاوت کنند، اما این موضوع بدون شک برای کسی که رییس جمهور بعدی امریکا می شود مهم نیست کی باشد، مطرح خواهد بود.

پاکستان یک عملیات نظامی را ...

هدف قرار بدهد، زیرا پاکستان با شبکه حقانی رابطه دراز مدت تاریخی دارد و بعد از خروج نیروهای خارجی از افغانستان، این شبکه می تواند یک متحد مفید برای پاکستان باشد.

پنیتا وزیر دفاع امریکا گفت، ما ازین ابتکار کیانی استقبال می نمائیم، هرچند که هدف عمده عملیات ممکن رهبری شبکه حقانی نباشد. پنیتا همچنان گفت، پاکستانی ها از مدت ها به این طرف راجع به این موضوع صحبت کرده اند. اما صراحتاً من امیدوار نیستم که آنها درین مورد کاری انجام بدهند.

وزیر دفاع امریکا در مصاحبه اش با آژانس خبری اسوشیتد پرس، به موضوع یک سلسله حملات توسط اعضای اردو و پولیس افغان بالای نیروهای امریکایی و سایر نیروهای ایتلاف اشاره نمود و این حملات را نگران کننده خواند.

وزیر دفاع همچنان گفت، حملات داخلی در بعضی موارد انعکاسی از تلاش های طالبان است که می خواهند از تکتیک های غیر عرفی بشمول مواد انفجاری و تشویق حملات داخلی استفاده کنند، زیرا که طالبان دو میدان جنگ توانایی رویارویی را از دست داده اند و طوری که دیده می شود طالبان در دو سال گذشته موفق نشده اند کدام منطقه یا ساحه یی را دوباره تصرف کنند.

حامد کرزی رییس جمهور افغانستان هم حملات اخیر بالای نیروهای ایتلاف را محکوم نمود و به مقامات مربوط هدایت داد تا تدابیر جدی در موسسات تربیوی و امنیتی اتخاذ شود. آقای کرزی در یک اعلامیه یی به روز شنبه گفت، دشمن که نمی خواهد افغانستان یک نیروی امنیتی قدرتمند داشته باشد، مربیون نظامی را مورد هدف قرار میدهند.

وزیر دفاع امریکا به آژانس خبری اسوشیتد پرس گفت، جان الن و اشفاق کیانی، راجع به شبکه حقانی که در طول سرحدات گشت و گذار دارند و حملات را در داخل افغانستان انجام می دهند با هم بحث کردند و اشفاق کیانی درین ملاقات با جان الن گفت، آنها پلان عملیات نظامی در وزیرستان را طرح کرده اند.

"درک ما هم اینست که آنها در آینده نزدیک قدمی درین راستا بر خواهند داشت، اما نمی توانم بگویم که چه وقت. "

سعودي ته د کرزي سفر د سولې د بریا لپاره ښه اقدام دی

کابل، رسانه ها:

د سولې د عالي شورا یوشمیر غړي تمه لري چې د اسلامي همکاریو د سازمان په کنفرانس کې د ولسمشر کرزي ګډون په دې هیواد کې د سولې د پروسې لپاره ګټور تمام شي.

ولسمشر کرزی د اسلامي همکاریو د سازمان په ځلورمه غونډه کې د ګډون لپاره د دوشنبې په ورځ د یوه پلاوي په مشرۍ سعودي عربستان ته ولاړ.

په سعودي عربستان کې د اسلامي همکاریو د سازمان په کنفرانس کې د ولسمشر کرزي ګډون ته د سولې د عالي شورا ځینې غړي په ښه سترګه ګوري او وایي، چې اسلامي هیوادونه د افغانستان په سوله اوثبات کې ښه رول لوبولی شي.

د سولې د عالي شورا غړي شهزاده شاهد وویل، چې د اسلامي هېوادونو په دې ډول لوی کنفرانس کې د افغانستان د روانې ستونزې یادیدل د پام وړ خبره ده او په پای کې یې د افغانستان په اړه د اعلامیې خپرول په دې هیواد کې د سولې پروسې د بریا لپاره خورا مهم اقدام دی.

مولوي شاهد د سې شنبې په ورځ آزادي راډیو ته وویل؛ چې اسلامي هیوادونو او د اسلامي هیوادونو کنفرانسونو ته په افغانستان کې د جګړې ښکیلې خواوې په ښه سترګه ګوري او غوښتنو ته يې هم ډېره پاملرنه کوي:

"که چیرې د اسلامي هیوادونو کنفرانس د افغانستان د قضیې د حل لپاره له شاملو خواوو نه څه وغواړي دا په خپل ځای د اعتبار وړ ده.

وسله وال مخالفان، حکومت او ټولې خواوې د دې کنفرانس د غوښتنې په اړه دا فکر کوي؛ چې اسلامي نړۍ په ټوله معنی زموږ د مسالې حل غواړي، نو دوی به په شرعي لحاظ هم دې موضوع ته په دقت سره ګوري ".

اسلامي نړۍ پورې د اړوندو مسایلو په اړه د خبرو اترو لپاره د اسلامي همکاریو د سازمان د اوه پنځوس غړیو هیوادونو د مشرانو ځلورمه فوق العاده غونډه د سعودي عربستان د پاچاه ملک عبدالله په بلنه د چهارشنبې په ورځ په مکه معظمه کې جوړیږي.

د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت په خبره ولسمشر کرزی به له دې کنفرانس څخه وغواړي چې په افغانستان کې د سولې او ثبات د ټینګښت لپاره د سولې له پروسې سره لازمه مرسته وکړي.

خو د سیاسي چارو یوشمیر کتونکي په افغانستان کې د سولې د ټینګښت لپاره د دې سازمان د رول په اړه شک څرګندوي او وایي چې په دې هیواد کې روانې جګړې او ستونزې سیمه ایزې او نړیوالې ریښې لري.

دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ
اونیزه شهادت
د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

خپرونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه
د امتیاز خاوند: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر: عبدالله "کامه وال"
مرستیال مدیر: عبدالخلیل (محمد خلیل)

د اړیکو شمېرې
دفتر: ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲
مسؤول مدیر: ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
مرستیال مدیر: ۰۷۷۲۲۷۵۷۸۳

• د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي.
• د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي.
• رالېږل شوي مطالب نه مستردېږي - یوازې سرلیکنه د شهادت د اونیزې رسمي نظر دی

دیزاین: خواجه وحیدالله | آدرس: د حزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر سیلو ته مخامخ خوشحال خان مېنه. کابل - افغانستان | Email Add: shahadatnews_kabul@yahoo.com